# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۹مه | دويم کال| ۲۸۷یمه ګڼه


## په افغانستان کې د ماتې په اړه د امریکايي چارواکو او رسنیو تبلیغات د سولې لپاره د ذهنیت جوړولو په موخه کېږي



۳

د سولې هڅې او مثبت خبرونه

۲ مخ

د مسکو غونډه او د سولې پر پروسه يې اغېزې

۲ مخ

د پردې تر شا د سولې هڅې او د ولسمشر وروستی لیدنې

۳ مخ

## هېواد

۴ مخ

### سوازيلنډ

د سوازيلنډ ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد ۱۰ سلنه ناخالص کورني توليدات هم له همدې سکتور څخه لاسته راځي.



### راشد، نبي او مجيب به بیا هم د هند د کرېکټ په غوره لیګ کې لوبېږي



د افغانستان د کرېکټ ملي لوبغاړي راشد خان، محمد نبي او مجيب الرحمن به په ۲۰۱۹ میلادي کال کې هم د هند د کرېکټ په غوره لیګ یا ای پي اېل سیالیو کې په خپلو خپلو ټیمونو کې ولوبېږي.

د هند د کرېکټ غوره لیګ سنرایزر حیدراباد اعلان کړی چې راشد خان او محمد نبي یې له ځانه سره ساتلي.

اخوا کېنګز پنجاب هم د مجيب الرحمن د ساتلو اعلان کړی دی.

راشد خان په نهه کروړه، مجيب الرحمن په څلور کروړه او محمد نبي په یو کروړ هندي روپیو لوبېږي.

افغان لوبغاړو له خپلو ټیمونو مننه کړې چې دوی یې له ځانه سره ساتلي دي.

په نړۍ کې د سوداګریز کرېکټ د لیګونو تر ټولو معتبر لیګ ای پي اېل د ۲۰۱۹ میلادي کال د مارچ په ۲۹مه پیلېږي.

### زلمي خلیلزاد: از گفتگوهای صلح با طالبان خوشبین هستم



زلمی خلیلزاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان ابراز امیدواری می‌کند که پیش از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری با گروه طالبان در بارهٔ صلح به توافق برسد.

آقای خلیلزاد، تأکید دارد که طالبان به این باور اند که نمی توانند از راه جنگ به پیروزی برسند.

نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان که دیروز پس از چاشت در یک نشست با خبرنگاران در کابل سخن می‌زد، گفت که در این مرحله نمی تواند در بارهٔ صلح چیزی بگوید، اما افزود که نسبت به گفتگوهای صلح با طالبان «محتاطانه خوشبین» و «امیدوار» است.

آقای خلیلزاد تأکید کرد که فرآیند صلح در افغانستان باید به گونه‌یی باشد که هیچ گروه برای جامعهٔ جهانی تهدید نباشد.

خلیلزاد می‌گوید که احتمال دارد طالبان در ترکیب هیئت مذاکره کنندهٔ شان تغییراتی بیاورند.

خلیلزاد همزمان از طالبان خواست که به گفتهٔ او از این شرایط به عنوان یک فرصت استفاده کنند.

این در حالی است که بر بنیاد گزارش اسوشیتیدپرس، زلمی خلیلزاد در دور دوم سفرش به کشورهای منطقه، برای سه روز با نماینده‌گان طالبان در قطر گفتگو کرده‌است.

اسوشیتیدپرس، از زبان مقام‌های گروه طالبان می‌افزاید که خیرالله خیرخواه، والی پیشین گروه طالبان برای ولایت هرات و محمد فضل، یک فرماندهٔ پیشین گروه طالبان در نشست قطر حضور داشته اند.

این دو، در میان پنج عضو گروه طالبان بودند که در سال ۲۰۱۴ میلادی از زندان گوانتانامو در بدل یک سرباز امریکایی آزاد شدند.

### تر راتلونکو شپږو ورځو پورې به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي



۵ مخ

### حامد کرزی: سولې د ته رسېدو لپاره د خلیلزاد تازه هڅې هیله بښونکې دي

پخواني ولسمشر حامد کرزي د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هڅې سولې ته د رسېدو په برخه کې هیله بښونکې بللې دي. ایسنا خبري اژانس د پخواني ولسمشر حامد کرزي له قوله ویلي چې په افغانستان کې د وسله والو ډلو د فعالیتونو د پراخېدو لامل د امریکا د ناسمو سیاستونو پایله ده. هغه ویلي چې په افغانستان کې له ۱۷ کلنې جګړې وروسته لا هم وسله والې ډلې نه یوازې دا چې ختمې شوې نه دي، بلکې په دې وروستیو کې یې فعالیتونه لا پراخ شوي دي.

کرزي دغه راز یو ځل بیا په افغانستان کې د امریکا د نظامي فعالیتونو مخالفت کړی دی او ویلي یې دي تر څو چې له هېواده بهر د وسله والو ډلو پټنځایونه له منځه لاړ نه شي، په افغانستان کې وضعیت نه شي عادي کېدای. نوموړي په دې وروستیو کې په افغانستان کې د سولې لپاره د امریکا هلو ځلو ته په اشارې سره ویلي، د افغان سولې لپاره د خلیلزاد هڅې هیله بښونکې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په قطر کې له وسله والو طالبانو سره تر لیدنې وروسته ویلي چې په افغانستان کې سولې ته هیلې تر بل هر وخت ډېرې شوې دي.



## دریـځ

# د سولې هڅې او مثبت خبرونه

د سولې د هڅو په لړ کې د مثبت پرمختګ ځرکونه لیدل کېږي. د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت استازي زلمي خلیلزاد ویلي: (( هیله لرم چې تر راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو وړاندې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسېږو)). خلیلزاد ویلي، طالبان باوري دي چې جګړه نه شي ګټلی. له همدې سره په یوه وخت امریکایي چارواکي او نظامي مسوولین هم وایي چې دوی طالبان نه شي ماتولی. ځینو لوېدیځو رسنیو په قطر کې د خلیلزاد او طالب استازو ترمنځ د درې ورځنیو خبرو په اړه ځینې معلومات خپاره کړي چې کره والی یې معلوم نه دی. ویل شوي چې په دې خبرو کې د ټاکنو پر ځنډ، موقت حکومت، اوربند، د بندیانو پر خوشي کولو، تور لېست او ځینو نورو مسایلو هم خبرې شوې دي.

د سولې په برخه کې وروستي پرمختګونه او خبرونه مثبت دي. له دواړو اړخونو د مثبتې روحیې او پرمختګ پیغامونه ورکول کېږي. د ځینو توافقاتو په اړه خلک خبرېږي او دواړه لوري یې په اړه خبرې کوي. ځینې توافقات عملي پایلې هم لري، لکه د بندیانو تبادله. ښایي ډېر نور توافقات هم شوي وي، خو دواړه لوري به غوره ګڼي چې پټ وساتل شي. له همدې امله د سولې خبرې تر هغو ډېرې ښې رواني دي چې رسنیو ته یې په اړه معلومات ورکول کېږي. په دې برخه کې به اختلافات او ستونزې هم وي، ځکه چې جګړې اوولس کاله دوام کړی، دواړو لورو سخته او خونړۍ جګړه کړې ده. دغه راز د دواړو لورو دریځونه سخت او سره لرې وو؛ نو پر همدې اساس د سولې خبرې به اسانه نه وي. سخت او ستونزمن مسایل به پکې مطرح کېږي. دواړه لوري به هڅه کوي چې خپلې ګټې خوندي کړي او پر یو بل خپلې غوښتنې ومني. دا خبرې به هم سختې وي او هم به وخت نیسي، خو مهمه دا ده چې دا خبرې دوام وکړي او مثبتې وي. اوس دا خبرې هم ښې رواني دي، هم مثبتې دي، هم توافقات پکې کېږي او اوس ان د سرعت خبره هم پکې شوې چې د ولسمشرۍ تر ټاکنو وړاندې باید سوله وشي. دا په رښتیا هم ستر پرمختګ دی او خلک ورته خوشاله دي.

اوس ښایي ځینې هېوادونه او کړۍ چې د جګړې په دوام کې یې ګټې نغښتې دي، هڅه وکړي چې دا پروسه تخریب کړي او پرې نه ږدي چې افغانستان ته سوله او امن را وګرځي. دوی به له قومي او نورو مسایلو په ګټنې سره هڅه وکړي چې ستونزې پیدا کړي، خو ولس باید د دوی پر وړاندې ودرېږي. پکار ده چې د دې خبرو ملاتړ وشي. که افغانستان ته سوله را ګرځي، نو خلک د ټاکنو د ځنډ، موقت حکومت او د هر هغه ګام ملاتړ کوي چې له سولې سره مرسته کوي. دغه راز ولس د سولې لپاره د بندیانو د خوشي کولو، له تور لېسته د طالبانو د ایستلو، د اساسي قانون د تغیر او نورو ګامونو پوره ملاتړ کوي. هیله ده چې د سولې دا خبرې په لا زیات شدت دوام وکړي او هېواد ته سوله او امن ژر را وګرځي.

# د مسکو غونډه او د سولې پر پروسه یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

مسکو تېره اونۍ د نومبر په ۹مه د افغان سولې په اړه د یوې مهمې غونډې کوربه و. په دې غونډه کې د امریکا او افغانستان په ګډون د سیمې ۱۲ هېوادونو ته د ګډون بلنه ورکړل شوې وه؛ خو امریکا یوازې د ځارونکي په توګه په غونډه کې ګډون وکړ او افغانستان بیا که څه هم د حکومت رسمي استازی غونډې ته ونه لېږه؛ مګر د سولې عالي شورا یوه جګ پوړي پلاوي په دې غونډه کې ګډون وکړ.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر د غونډې په پیل کې په افغانستان کې د داعش ډلې د جنګیالیو حضور او ګواښ ته په اشارې سره وویل چې د ځینو هېوادونو له خوا د سیمې د ناامنه کولو لپاره د داعش ډلې ملاتړ کېږي. نوموړي د روسیې هلې ځلې په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره وبللې.

دغې غونډې ځکه په نړیواله کچه پام ځان ته اړولی و چې له یوې خوا د طالب استازو یوه جګ پوړي او باصلاحیته پلاوي پکې ګډون کړی و او له بلې خوا د روسیې او امریکا ترمنځ د وروستیو کلونو سړې جګړې له کبله د افغانستان پر لور د روسیې لېوالتیا او ښکېلتیا هم زیاته شوې ده.

دا چې د روسیې- امریکا سړې جګړې د افغانستان پر قضیه څومره اغېزې کړې؟ روسیه په خپلو دا ډول هڅو سره څه غواړي؟ او د وروستۍ غونډې پایلې او اغېزې به څه وي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

**دامریکا-روسیې سړه جګړه او افغانستان**

که څه هم د سولې په تړاو هر ګام په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره هیلې راټوکوي؛ خو د مسکو غونډې د امریکا او روسیې ترمنځ د سړې جګړې او د افغانستان په قضیه کې د دغو هېوادونو د تقابل پیغام له ځان سره درلود. د همدغه ذهنیت د حاکمیت له کبله د روسیې د بهرنیو چارو وزیر په خپلو خبرو کې په ټینګار سره وویل، دوی نه غواړي چې افغانستان د سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو او زبرځواکونو د سیالیو په ډګر بدل شي او د دغې غونډې یوازینۍ موخه یې په افغانستان کې د سولې ټینګښت وبلله.

له یوې خوا په افغانستان کې د امریکا د جګړې اوږدېدل او له بلې خوا د افغان حکومت د سولې د هڅو ناکامي د دې لامل شوي چې د افغان قضیې سیمه ییز او نړیوال لوبغاړي هم په ډېرېدو شي.

دا چې روسیه او امریکا له تېرو څو کلونو راهیسې د ځینو سیمه ییزو او نړیوالو قضیو په تړاو په یوه نوې سړه جګړه کې ښکېل دي، افغانستان هم د دغې سړې جګړې پر یوه ډګر بدل شوی دی.

روسیه اوسمهال په افغانستان کې د امریکا له حضور څخه په وېره کې ده، په ځانګړې توګه په افغانستان کې د امریکایي اډو له جوړېدو او بیا په ۲۰۱۵ ز کال کال کې د داعش ډلې د فعالیت پیل د دغه هېواد اندېښنې زیاتې کړې دي او له همدغه کال را وروسته یې د افغانستان په قضیه کې د اغېزناک رول لوبولو هڅې پیل کړې دي.

د روسیې د وروستیو هڅو او پر افغان قضیه یې د اغېزو په اړه دوه ډوله تحلیلونه شته دي:

**لومړی:** دا چې د روسیې هڅې له امریکا سره د سړې جګړې او پر دغه هېواد د فشارونو واردولو په موخه دي، نو له همدې کبله به ښایي دا هڅې په افغانستان کې د سولې او امنیت د ټینګښت په برخه کې معکوسې پایلې ولري او دا به د افغان جګړې د لا پېچلتیا او اوږدېدو لامل شي.

**دویم:** داسې انګېرنې هم شته دي چې ښایي امریکا به د افغانستان په قضیه کې د روسیې د رول پراخېدل او په ځانګړې توګه له طالبانو سره د روسیې د اړیکو لا زیاته غځېدا ونه غواړي. له همدې کبله به امریکا خپلې هڅې ګړندۍ کړي، څو له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو له لارې له دغې ډلې سره د سولې یوې هوکړې ته ورسېږي.

**د مسکو د غونډې پایلې او اغېزې**

د ملي یووالي حکومت په دوره کې د مسکو-کابل اړیکې د حامد کرزي د دورې په پرتله ترینګلې شوې؛ ځکه له یوې خوا د ملي یووالي حکومت له واشنګټن سره د ښو اړیکو پاللو هڅه کوله او له بلې خوا په دې دوره کې د افغانستان په اړه د روسیې په سیاستونو کې هم بدلون راغی. همدا لامل دی چې افغان حکومت د سولې په برخه کې د روسیې هڅو ته د شک په سترګه ګوري او وروستۍ غونډې دا فضا یو څه نوره هم ترینګلې کړه.

افغان حکومت له یوې خوا نه غواړي په داسې غونډه کې ګډون وکړي چې رهبري یې د دوی په واک کې نه وي او له بلې خوا د سولې په برخه کې د امریکا وروستیو هڅو هم حکومت تر یوه بریده اندېښمن کړی او په دې وېره کې دی چې د امریکا-طالبانو د مخامخ خبرو اترو پر مهال له پامه ونه غورځول شي. له همدې امله یې په دې غونډه کې په ګډون نه کولو سره، د روسیې د هڅو په اړه د امریکا دریځ تایید کړ. خو په ورته وخت کې د سولې عالي شورا د پلاوي ګډون بیا د حکومت د کمزورۍ او دوه زړي دریځ ښکارندویي کوله، ځکه د سولې عالي شورا له طالبانو سره د سولې د پروسې رسمي ارګان دی، خو تراوسه له طالبانو سره د سولې اړوند پرمختګونه د دغې شورا له لارې نه دي شوي او دا شورا یو بې اغېزې ادرس بلل کېږي.

په بل اړخ کې طالبانو ته بیا دا ښه فرصت و چې د سیمې او نړۍ په کچه په یوه مهمه غونډه کې رسماً ګډون وکړي او خپل دریځ بیان کړي. طالبانو په دې غونډه کې په ګډون کولو سره له یوې خوا د روسیې په څېر ځواکمنو هېوادونو د ملاتړ پیغام امریکا او افغان حکومت ته ورساوه او له بلې خوا یې د لومړي ځل لپاره په ډېر پراخ او اغېزناک ډول خپل غږ د سیمې هېوادونو او نړۍ ته ورساوه. د طالبانو استازو په خپلو خبرو کې پر دې ټکي لا زیات ټینګار وکړ چې دغه ډله ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته ګواښ نه دی، کوم څه چې د طالبانو سیمه ییز ملاتړ پیاوړی کوي.

طالبانو له یوې خوا په وروستیو کلونو کې، په تېره بیا له ۲۰۱۳ ز کال او په قطر کې د سیاسي دفتر له پرانیستل کېدو وروسته، خپلې ډیپلوماټیکې هڅې پیاوړې کړې دي او له بلې خوا طالبانو درک کړې چې له روسیې سره د اړیکو له لارې کولی شي پر امریکا فشارونه وارد کړي او له دغې ډلې سره د امریکا مخامخ خبرو اترو ته لاره هواره شي.

د دې ترڅنګ، په مسکو کې د طالب استازو په ګډون د سولې غونډه جوړېدل د امریکا لپاره د اندېښنې خبره ده او ښایي تر یوه بریده له طالبانو سره د مخامخ خبرو په اړه د امریکا پر دریځ اغېزې ولري؛ ځکه امریکا نه غواړي چې د افغانستان په قضیه کې د روسیې رول تر دې زیات پراخ شي.

**د امریکا- طالبانو خبرې اترې**

د مسکو غونډه داسې مهال جوړېږي چې امریکا له څه مودې راهیسې د افغان سولې په برخه کې د پخوا په پرتله هیله ښښونکي ګامونه اوچت کړي دي. له دغې غونډې سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم چې څه موده وړاندې یې په قطر کې له طالب استازو سره کتلي وو؛ سیمې ته خپل دویم سفر وکړ.

د افغان جګړې د دوام اصلي لامل په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون دی او ترڅو پورې چې امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو مهالوېش له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو مېز ته وړاندې نه کړي، دا بهیر به د پام وړ لاسته راوړنه ونه لري. د افغان حکومت د سولې د هڅو د ناکامۍ اساسي لامل هم همدا دی چې طالبان افغان حکومت د دوی د اساسي غوښتنې (په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو د برخلیک) په تړاو بې‌صلاحیته بولي او له دغه حکومت سره له مخامخ خبرو انکار کوي.

د دې ترڅنګ، افغان قضیه بهرني او کورني اړخونه لري چې بهرنی اړخ یې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش او دویم اړخ یې بین‌الافغاني تفاهم ته د زمینې برابرولو ته اړتیا لري. په بهرني اړخ کې د سیمه ییزو هېوادونو هڅې تر یوه بریده اغېزناکې بلل کېږي او د روسیې په څېر هېوادونو فشارونه د امریکا پر دریځ اغېز ښیندلی شي؛ ځکه ترڅو چې امریکا په خبرو کې مستقیم رول او ونډه ونه لري، د سولې د بهیر بریا هم ناشونې برېښي.

## د سولې عالي شورا: باید پوه شو چې له وسله والو طالبانو سره سوله په کومه بیه تمامېږي




د سولې عالي شورا وایي، باید پوه شو چې له وسله والو طالبانو سره سوله په کومه بیه تمامېږي. د دې شورا مرستیالې حبیبې سرابي ازادي راډیو ته وویل چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي، زلمي خلیلزاد ډاډ ورکړی چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له استازو سره د خپلو خبرو جزیات به ورسره شریک کړي.

تر دې مخکې د سولې عالي شورا ویلي وو چې زلمي خلیلزاد د سولې لپاره له روانو هڅو دوی څنډې ته کړي دي، خو د دې شورا مرستیالې حبیبې سرابي وویل چې زلمي خلیلزاد له دوی سره د کتنې ډاډ ورکړی دی.

نوموړې زیاته کړه: « هغه څه چې موږ ته مهم دي دا دي چې کومې خبرې چې په قطر یا بل هرځای کې کېږي، باید د سولې له عالي شورا سره مطرح شي، موږ ته د خلیلزاد له لوري پیغام را رسېدلی چې له موږ سره به پر هغو موضوعاتو چې په دوحه کې یې خبرې ورسره کړې، بحث وکړي. موږ به له خلیلزاد سره مخامخ وګورو او خبرې به ورسره وکړو».

سرابي وایي، داسې رپوټونه ور رسېدلي چې خلیلزاد او د طالبانو د سیاسي دفتر استازو له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه جوړجاړی کړی دی.

خو هغې ټینګار وکړ چې له خلیلزاد سره په کتنه کې به دا پوښتنه وکړي او خپلې اندېښنې به له هغه سره شریکې کړي.

نوموړې زیاته کړه: «د یوې ښځې په توګه او د افغانستان د یوه وګړي په حیث زه غواړم چې په افغانستان کې د سولې په بیه وپوهېږم، موږ باید وپوهېږو چې په کوم قېمت سوله کوو؟ په افغانستان کې د سولې لپاره کوم ارزښتونه په پام کې نیول شوي دي؟ پر دې پوهېدل زموږ لپاره اهمیت لري».

## د امریکا د پوځ مشر: د افغان جګړې سیاسي حل د طالبانو په ګټه دی

د امریکا د پوځ مشر جنرال ډانفورډ وایي، طالبان په افغان جګړه کې بایلونکي نه دي او د سولې پر خبرو اترو یې ټینګار کړی دی.

د امریکایي ټلوېزیون سي ان ان د راپور له مخې، د امریکا د پوځ د ګډې قوماندانۍ قوماندان جنرال جوزېف ډانفورډ دغه څرګندونې د امریکا په هالیفاکس کې د یوه امنیتي بحث پر مهال کړې دي.

هغه زیاته کړې: «طالبان اوسمهال افغان جګړه کې بایلونکي نه دي، د افغان شخړې هوارې لپاره باید د سولې د خبرو اترو له لارې کار وشي».

د جنرال ډانفورډ په وینا، افغان شخړه نظامي حللاره نه لري، ناټو او افغان حکومت په ګډه هڅې کوي چې پر طالبانو نظامي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز فشارونه راوړي، څو هغوی د سولې خبرو اترو ته چمتو کړي.

هغه زیاته کړې، د افغان شخړې سیاسي حللاره په خپله د طالبانو په ګټه هم ده او باید له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېني.

د امریکا د پوځ مشر له نورو جزیاتو ورکولو پرته ویلي: «موږ باوري یو چې طالبان به یوه ورځ پخلاینې ته چمتو شي».

ډانفورډ ویلي، د بریا لپاره مهمه ده چې



د سولې ټولې هڅې او فشارونه باید سره همغږې شي، څو طالبان خبرو اترو ته چمتو کړای شي.

د نوموړي په وینا، اوس لا ډېره وختي ده چې وویل شي، له طالبانو سره د سولې موافقه نږدې شوې ده.

د امریکا د پوځ مشر په داسې حال کې د افغان سولې په اړه څرګندونې کړې دي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پخوانی ډیپلومات زلمی خلیلزاد د افغان سولې لپاره ځانګړی استازی ټاکلی دی.

نوموړي په تېرو دوو میاشتو کې دوه ځلې افغانستان او د سیمې هېوادونو ته سفرونه کړي او د طالبانو له استازو سره یې هم لیدلي دي.

# د پردې تر شا د سولې هڅې او د ولسمشر وروستی لیدنې

لیکنه: ارشاد رغاند

ارګ په تازه اعلامیو کې له یوشمېر مطرحو سیاسي څېرو سره د ولسمشر غني د ځانګړو ملاقاتونو خبر په داسې حال خپور کړی چې د سولې هڅې په لوړه کچه چټکې شوې او ورسره دا هڅې ورځ تر بلې مرموزې کېږي.
د سولې د وروستیو هڅو مرموزیت تر ډېره هغو راپورونو زیات کړی چې له دې هڅو څخه د افغان حکومت د منزوي کېدو په تړاو خپرېږي.
په تازه راپورونو کې ویل شوي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له وسله والو طالبانو سره د خپلو مذاکرو او موافقو جزیات له ټول افغان حکومت، حتی ولسمشر غني څخه پټ ساتلي.
د امریکایي رسنیو په حواله ولسمشر غني په دغه وضعیت خواشینی شوی او له امریکا سره یې اړیکې ترینګلې شوې دي، خو حکومت ته نږدې سرچینو دا راپورونه کاملاً رد کړي دي.

د موقت حکومت اوازې

په وروستیو کې دا اوازه ډېره توده شوې چې ګوندې امریکا، سیمه ییز هېوادونه، طالبان او یوه برخه سیاسي ډلې د ګډ موقت حکومت پر جوړولو سلا شوي.
داسې ګومان هم کېږي چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ځنډېدو ته د امریکا د لېوالتیا اوازه هم تر ډېره له همداسې یوې پټې ترسره شوې/ ترسره کېدونکې هوکړې سرچینه اخلي.

ظاهري درېځونه

د مخکیني ولسمشر حامد کرزي په ګډون یوشمېر سیاسي ډلې، په خاص ډول وسله وال طالبان وخت په وخت د روغې جوړې د زمینه سازۍ یوه غوره لاره د موقت حکومت جوړول بولي. افغان حکومت په رسمي توګه دا ډول اوازې رد کړې او هغه یې بې بنسټه بللې دي.

د ولسمشر ملاقاتونه

ولسمشر غني د سولې د روانو هڅو په لړ کې له خپلو یوشمېر سیاسي نارضایانو سره لیدنې او مشورتي ناستې پیل کړې.
د دغو لیدنو مشخص جزیات نه دي په ډاګه شوي، خو د ارګ په خبرپاڼو کې ویل شوي چې ولسمشر له دې لورو سره د سولې د پروسې په اړه سلامشورې کړې. داسې هم ویل کېږي چې ښايي ولسمشر د یوشمېر ناراضو سیاستوالو د پخلا کولو هڅه کوي.
هغه سیاسي څېرې چې په دې ورځو کې یې ولسمشر ځانګړو ملاقاتونو ته دعوتوي، اکثره هغه کسان دي چې ډېرځله یې له هغوی سره نه لیدل او په اصطلاح منزوي کول یې یو لوی هدف او لاسته راوړنه ګڼل کېده.
د سولې په نوم وروستۍ مشورې بیا د تېرو تجربو تکرار ښکاري، خو غوره دا ده چې نور زموږ حکومت هوښیار شوی وي او له تېرو تجربو د عبرت درس واخلي.
زموږ پر سیاسي قشر به ممکن تر حکومت لا زیاتې ملاحظې وي، خو د افغانستان ورځ تر بلې نازکېدونکي حالت د سولې ترڅنګ د بحراني وضعې د نورو خواوو د مهار لپاره ملي – سیاسي اجماع په یوه مهم ضرورت بدله کړې ده.

له ملت نه څه پټوي؟

ملت د سولې په اړه د مسکو ناستې، امریکا- طالب مذاکراتو او همدا شان د سولې په اړه د مشورو په نوم د سولې شورا د استازو په نه موجودیت کې له خپلو سیاسي مخالفینو سره د ولسمشر غني تر لیدنو هرڅه ته په مرموزه سترګه ګوري.
لکه څنګه چې سوله د ملت حق او لومړیتوب دی، همداسې د دې ملي اړتیا د پوره کېدو لپاره له ټولو هڅو او د پردې ترشا پر موخو او هوکړو باید ملت خبر او له اندېښنو خلاص شي.
حکومت ته لازمه ده چې د سولې له اړوند ټولو قضایاوو څخه ملت خبر او د سولې بهیر په واقعي مانا ملي، شفاف او د ملت له ارادې او ضرورتونو سره عیار کړي.
که داسې ونه شي او پر دې تمرکز وي چې د سولې په نوم نړیوال او سیمه ییز قوتونه له یوشمېر سیاسي ډلو، حکومت او طالبانو سره د یو بل د ګټو پر خوندیتوب او واک وېشلو سلا شي، معلومه ده چې داسې هڅې د واقعي سولې زمینه سازي نه شي کولای.

# په افغانستان کې د ماتې په اړه د امریکایي چارواکو او رسنیو تبلیغات د سولې لپاره د ذهنیت جوړولو په موخه کېږي



د راپورونو له مخې سپیني ماڼۍ په دې وروستیو کې سي ای اې او نورو ارګانونو ته دنده سپارلې چې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د وتلو او له طالبانو سره د جوړجاړي لپاره په رسنیو کې تبلیغات وکړي او عامه ذهنیت دغه کار ته تیار کړي.
په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د امریکا متحده ایالتونو د سولې او خبرو اترو له لارې هڅې پیل کړې چې په افغانستان کې د دغه هېواد په تاریخ کې تر ټولې اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېږدي.
له دې سره هممهاله امریکایي رسنۍ او چارواکي بیا بیا وایي چې امریکا په افغانستان کې د ماتې په اړه د خبرونو د خپرولو له لارې غواړي د ځواکونو ایستلو او سولې ته ذهنیت برابر کړي.
د امریکا د دفاع وزارت پخواني مرستیال بینګ ویسټ ویلي، امریکا په افغانستان کې ماتې خوړلې او دغه هېواد باید تر دې حده ونه رسېږي، څو د سفارت له بامه په الوتکه کې را وتښتي، نو غوره ده چې له افغانستانه د وتلو لپاره ابرومندانه لارې چارې ولټوي.
ویسټ ویلي چې په افغانستان کې د زرګونو امریکایي سرتېرو له وژل کېدو او میلیونونه ډالرو له مصرف وروسته باید امریکا هڅه وکړي، څو د خپلې ابرو ساتلو لپاره له افغانستانه پښې سپکې کړي. هغه ویلي، امریکایي چارواکي باید داسې لاره غوره کړي، څو یو ځل بیا د ویتنام له برخلیک سره مخ نه شي.
امریکایي چارواکو هم په وار وار په دې اعتراف کړی چې د افغانستان جګړه له نظامي لارو نه شي ګټل‌ی، نو له همدې کبله غواړي چې دې جګړې ته سیاسي حللاره ومومي.
د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال جوزف ډانفورډ ویلي چې طالبان له نظامي لارو د ماتې وړ نه دي. د ده په خبره په افغانستان کې اوولس کلنې جګړې وښوده چې له بده مرغه د طالبانو په ماتولو کې نظامي لاره ګټوره نه ده او باید پر بدیلو لارو فکر وشي.
نوموړي همدا راز ویلي چې طالبان هم د جګړو له لارې خپلو موخو ته نه شي رسېدلی، نو ښه به وي چې پر سیاسي مذاکراتو تر هر څه ډېر تمرکز وشي. هغه ویلي، امریکا او ملاتړي یې هڅه کوي چې د نظامي، سیاسي او مالي فشارونو پر مټ طالبان د سولې او سیاسي مذاکراتو مېز ته راولي.
د سیاسي چارو شنونکي وایي، داسې ښکاري چې دا په امریکا کې دننه او په نړیواله کچه د دې لپاره ذهنیت سازي ده چې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه و ایستل شي .

# د امریکا او چین د اختلاف له امله د اسیا د پاسفیک حوزې د مشرانو غونډه بې پایلې پای ته ورسېده



د اسیا د پاسفیک حوزې مشران د سوداګرۍ پر سر د راپورته شویو اختلافونو له امله ونه توانېدل چې د غونډې په پای کې یوه اعلامیه خپره کړي.
د سوداګرۍ په برخه کې د امریکا او چین ترمنځ اختلافات د دې سبب شول چې د اسیا پاسفیک حوزې مشران د سرمشریزې د پای اعلامیه خپره نه شي کړای.
د کاناډا صدراعظم جسټن ټروډو وویل، د تجارتي سیاستونو پر سر د راپورته شویو اختلافونو له امله د اسیا پاسفیک د هېوادونو مشرانو ونه شوای کړای چې د دې سرمشریزې پر ګډې اعلامیې موافقه وکړي.
د پاپه نیوګینې صدراعظم پیټر اونیل چې هېواد یې په پورټ موریسبي کې د دې سرمشریزې کوربه و، د سرمشریزې په پای کې وویل، له دې سره سره چې مشرانو دا ومنله چې د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ پر سر کړکېچ زیات شوی، خو په غونډه کې ډېر ګټور بحثونه او ښکاره نظریات هم تبادله شول.
اونیل خبریالانو ته وویل چې ټوله نړۍ د چین او امریکا ترمنځ د سوداګرۍ پر سر راپوته شوي کړکېچ ته اندېښمنه ده.
د اسوشیټېډ پرېس اژانس د راپور له مخې، د سرمشریزې د پای د اعلامیې مسوده چې امریکا وړاندې کړې او رد شوې وه، د متن په یوه برخه کې یې پر چین انتقاد شوی و چې د سوداګرۍ غیر عادلانه پالیسي مخ ته وړي.
دا سرمشریزه په داسې حال کې بې پایلې پای ته رسېږي چې تر دې وړاندې د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پېنس د چین له ولسمشر شي جین پینګ سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګمرکي تعرفو د زیاتوالي پر سر نانندرۍ ووهلې.
پېنس وویل، واشنګټن چمتو دی چې د چین پر صادراتو پر اوسنیو لګول شویو ګمرکي تعرفو دوه چنده زیاتې ولګوي او ژمنه یې وکړه چې واشنګټن به تر هغو چې چین خپله تګلاره بدله نه کړي، خپل دریځ به بدل نه کړي.
د امریکا د ولسمشر ډونالد ټرمپ ادارې د چین پر صادراتو د میلیاردونو ډالرو په ارزښت ګمرکي تعرفې لګولې او ویلي یې دي چې دا کار یې د چین د سوداګرۍ د غیر عادلانه سیاستونو له امله کړی دی.
خو چین هم له خپل لوري له امریکا پر واردونکو تولیداتو ګمرکي تعرفې زیاتې کړې او ټرمپ یې تورن کړی چې سوداګریزه جګړه یې پیل کړې ده.
د چین ولسمشر شي د شنبې په ورځ دې سرمشریزې ته وویل، تاریخ که هغه د سړې جګړې یا د ګرمې جګړې او یا هم د سوداګرۍ جګړې وخت دی، ښودلې چې جګړه ګټونکی نه لري.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

**پنځلسمه ځانګړنه**
**اړیکې:**



**۳) د رهبرۍ لاس نورو خوا ته اوږد کړئ- له اشخاصو سره مرسته وکړئ**

د جنرال موټرز مدیر (لي روی کورتز) وایي: (صنعتي ډګر د هغو ادارو له هډوکو ډک پروت دی چې مدیرانو له دننه خوسا کړې دي. دوی ټول عمر د (ورکړې) پر ځای (راکړه) کړي. دوی دې ته نه ګوري چې په نړۍ کې د یوې شتمنۍ لپاره هېڅ بدیل نه پیدا کېږي او هغه انسان دی.)

خلک هغه رهبر ته ارزښت ورکوي چې د دوی ګټې تأمینوي. که تاسې دې ته پام وکړئ چې له خلکو نه د څه شي اخیستلو پر ځای څه ورته ورکړئ، نو خلک به مو درناوی وکړي. دغه چاره به په تاسې او نورو کې د ښو اړیکو رامنځته کولو قوي بنسټ وګرځي.

**پر دې فکر وکړئ**

ستاسې د خلکو (پیروانو یا کارکوونکو) مهارتونه څنګه او په کومه کچه دي؟ تاسې له نابلدو خلکو سره ښه تعامل کوئ؟ تاسې له ټولو خلکو سره ښه چلند کوئ؟ مشترک ټکي او ساحه ورسره پیدا کولای شئ؟ اوږدمهال تعاملات مو څنګه دي؟ آیا دا وړتیا لرئ چې اړیکې ثابتې وساتئ؟ که چېرې ستاسې د اړیکو وړتیا کمزورې وي، نو رهبري به مو به تل له ستونزو سره مخ وي.

**د رسېدو لار**

**د اړیکو د پیاوړتیا لپاره لاندې کارونه وکړئ:**

- ذهن ته وده ورکړئ. که غواړئ چې د نورو خلکو د درک کولو وړتیا مو لوړه شي، نو په دې موضوع د بېلابېلو کتابونو لوست پیل کړئ. زه درته د ډیل کارنیګي ، آلن لوی مک ګینیس او ویلس پاروت د کتابونو سپارښتنه کوم.

له دې وروسته بیا دې ته وخت ورکړئ چې خلک وڅارئ، پام ورته وکړئ، وخت ورکړئ، خبرې ورسره وکړئ او څه چې مو زده کړي وي په هغوی یې عملي کړئ.

- زړه مو قوي کړئ. که نورو ته کافي پام نه کوئ، نو پام مو باید له خپل ځانه واړوئ. د داسې ساده او اسانه کارونو یو لیست جوړ کړئ چې په مرسته یې تاسې خپلو ملګرو او همکارانو ته ارزښت ورکولای شئ. دا چې جوړ شو بیا هره ورځ یو کار کوئ. دې ته مه کېنئ چې په تاسو کې له نورو سره د مرستې شوق پیدا شي، څنګه چې مو له خلکو سره مرسته پیل کړه، دغه شوق به هم درکې پیدا شي.
- ورانه اړیکه ورغوئ. خپلې یوې داسې مهمې اړیکې ته پام وکړئ چې اوس بې رنګه شوې وي. د دې اړیکې د بیارغونې لپاره چې مو هر څه له وسه پوره وي ویې کړئ. اړیکه ورسره ونیسئ او هڅه وکړئ چې بېرته مو ترمنځ اړیکه پیدا شي. که له تاسې نه تېروتنه شوې وي، نو له فرصته ګټه واخلئ او د ښښنې غوښتلو له موقفه ورسره وغږېږئ. هڅه وکړئ چې هغه لا ډېر درک کړئ، لا ډېره مینه ورسره وکړئ او لا ډېر خدمت یې وکړئ.

**له تجربې زده کړه**

د نوبل جایزې ګټونکی لیکوال ارنست همینګوی په خپله یوه لنډه کیسه (د نړۍ کنګره ) کې د یوه پلار او د هغه د ځوان زوی کیسه کوي، چې اړیکې یې بې رنګه شوې وې. زوی یې پیکو نومېده. پیکو چې له کوره وتښتي، پلار یې ورپسې ووځي او اوږدې لارې د دې لپاره وهي چې خپل زوی بیا ومومي. پلار چې وګرځي او زوی پیدا نه کړي، نو د مادرید په یوه ځایي ورځپاڼه کې داسې یوه خبرتیا خپروي: (ګرانه پیکو، سبا ماسپښین د ورځپاڼې د دفتر په مخ کې راسره وګوره. هر څه مې دربښلي. راته ګران یې.) سبا د ورځپاڼې د دفتر مخې ته د پیکو په نامه ۸۰۰ کسان راټول شوي وي او ټول هڅه کوي چې خپله بې رنګه شوې یا له منځه تللې اړیکه بېرته راجوړه کړي. د خلکو پر ژوند د اړیکو قدرت ته هېڅکله په کمه سترګه مه ګورئ.

**شپاړلسمه ځانګړنه**
**مسئولیت:**

چې توپ لاس کې وانخلئ،
د نورو رهبري نشئ کولای.


هره لویه بریا، مسئولیت اخیستلو ته اړتیا لري... بلاخره ویلی شو، هغه معیار چې ټول بریالي خلک یې لري، دا دی چې د مسئولیت منلو وړتیا لري.
(مایکل کوردا)
«د سیمون او شوستر مجلې مسئول مدیر»

رهبر هرڅه پربښودلی شي، خو نهایي مسئولیت نشي پربښودلی.
(جان مکسوېل)

**دوام لري...**

# سوازیلنډ

حشمت الله نوري



سـوازیلنډ د افریقـا د لویـې وچې په سوېلي برخـه کـې د ختیځو طـول البلدونـو د ۳۱ او ۳۲ درجـو او د سـوېلي عـرض البلدونو د ۲٦ او ۲۷ درجـو ترمنځ موقعیت لـري. پراخوالی یـې ٦٦۸۰ کیلـو متـره مربـع دی او لـه دې پلـوه د نـړۍ ۱۵۹م لوی هېـواد دی.
شـمال تـه یې سـوېلي افریقـا، سـوېل ته یې سـوېلي افریقـا او د ناتـال ایالـت، ختیـځ تـه یـې موزمبیـق او لوېدیـځ تـه یـې هم سـوېلي افریقـا موقعیـت لري.
د دغـه هېـواد پلازمېنـه مبابـان ښـار دی. د ټولـو وګړو شـمېر یـې څه بانـدې ۱۳ میلیونه تنـه اټکل شـوی چې په هـر کیلـو متـر مربع سیمه کـې یـې ۸۱ تنـه ژونـد کـوي. د سـوازیلنډ ۳۰ سـلنه وګـړي پـه ښـارونو کـې اوسـېږي او پاتـې ۷۰ سـلنه نـور یې پـه کلیو او بانـډو کـې مېشـت دي. د دغـه هېـواد د قانـون لـه مخـې هـره کورنـۍ پـه ټـول عمر کـې د دریـو ماشـومانو د درلودو اجـازه لري.
سـوازیلنډ د اداري وېش لـه پلوه پـه څلـورو ولسـوالیو وېشـل شـوی. مبابـان، بېـګ بانډ، مالګریـن، مالـوم سـتیکي او لوبامبـا د دغه هېـواد لـه لویـو او مهمـو ښـارونو څخـه دي.
د دغـه هېـواد ۹۸ سـلنه وګړي تورپوسـتي او پاتـې دوه سـلنه نور یې سـپین پوسـتي دي.
دغـه راز د دغـه هېـواد ۴۰ سـلنه وګـړي زونسـتان، ۲۰ سـلنه رومـن کاتولیـکان، ۱۲ سـلنه مسـلمانان او پاتـې نـور یـې د بېلابېلو دینونـو او عقیـدو پیروان دي. رسـمي ژبه یې انګلیـسي او لیکـدود یـې لاتینـي دی.
سـوازیلنډ تـر ۲۰۰۵ ز کال پـورې اساسي قانـون نـه درلـود، خـو د همدغـه کال د جـولای پـه میاشـت کـې د دغـه هېـواد پاچا نوی اسـاسي قانون توشـېح کړ او د ۲۰۰٦ ز کال د فبـرورۍ پـه اتمـه نافـذ شـو.
پـه سـوازیلنډ کـې پاچایـي میراثـي ده. د دغـه هېـواد لومـړی وزیـر د ولـسي جرګـې د انتخـابي اسـتازو لـه ډلـې څخـه د پاچـا او د کابینـې وزیـران د لومـړي وزیـر پـه وړاندیز او د پاچـا پـه منظـورۍ ټـاکل کېـږي.
د سـوازیلنډ پارلمـان دوې جرګـې لـري: لومـړۍ مشـورتي جرګـه چـې د ۳۰ غړیـو لـه جملـې څخـه یـې ۲۰ د پاچـا او ۱۰ یـې د ولـسي جرګـې لـه خـوا د پنځـو کلونـو لپـاره غـوره کېـږي. دویمـه ولـسي جرګـه یـې ٦۵ غـړي لـري چـې لـه دې جملـې څخـه یـې ۱۰ د پاچـا او ۵۵ د خلکـو پـه خوښـه د پنځو کلونـو لپـاره ټـاکل کېـږي. د دغـه هېـواد حقوقـي نظـام د سـوېلي افریقـا پـه رومـي- هالنـډي قوانینـو او د سـوازي خلکـو پـه عنعنـوي روایاتـو ولاړ دی. سـتره محکمـه او د اسـتناف محکمـه د دغه هېـواد لوړ قضایي ارګانونـه دي. د دواړو محکمـو قاضیـان د سـوازیلنډ د پاچـا لـه خـوا ټـاکل کېـږي.
متحـد افریقایـي ولسـواک ګونـد، ملـي غورځنـګ او د خلکـو متحـد ولسـواک غورځنـګ د دغـه هېـواد لـه لویـو او نفـوذ لرونکـو ګوندونـو څخـه دي.
سـوازیلنډ د ۱۹٦۸ ز کال د سـپټمبر پـه شـپږمه خپلواکـي ترلاسـه کړه، نو لـه همدې کبلـه د سـپټمبر شـپږمه هـر کال پـه دغه هېـواد کـې د خپلواکـۍ د ورځـې پـه نـوم نمانځـل کېـږي.
دغـه هېـواد د ګڼـو نړیوالـو ټولنـو ترڅنګ په ۱۹٦۸ ز کال کـې د ملګـرو ملتونـو غړیتـوب هـم ترلاسـه کـړ.
پـه وچـه پـورې د دغـه تړلـي هېـواد د کرنـې معیشـتي سـکټور د هېـواد ۷۲ سـلنه خلکـو تـه کاري بوختیـاوې رامنځتـه کـړې. د سـوازیلنډ دولـت د تېـرې پېـړۍ د ۸۰مـې لسـیزې لـه نیمایـي څخـه هڅـه کـړې چـې خپـل تولیـدي سـکټور پیـاوړی کـړي. اوس سـوازیلنډ د کرنیزو توکو د پروسـس څو وړې فابریکـې لـري چـې ډېری یـې د ګنیـو او لرګیـو پـه پروسـس لګیـا دي. بوره، د جوسـو عصـاره او لرګـي د دغه هېواد لـوی صادراتي اقـلام دي.
کـه څـه هـم اوسـمهال د دغـه هېـواد د کاني موادو اسـتخراج سـتونزمن شـوی، خو د ډېرو د سـکرو کارخانـې یې ښـه کار کوي.
دا چـې سـوازیلنډ لـه دریـو خـواوو څخـه لـه سـوېلي افریقـا سره ګـډه پولـه لـري، نـو اقتصـاد یـې هـم تـر ډېـره لـه سـوېلي افریقـا سره تړلـی دی. سـوازیلنډ خپـل ۸۵ سـلنه واردات له سـوېلي افریقـا څخه کوي او خپل ۷۵ سـلنه مالونـه دغـه هېـواد تـه صـادروي.
همـدا راز د سـوازیلنډ ۹۲ سـلنه هغـه مالونه چـې نـورو هېوادونـو تـه ځـي، د سـوېلي افریقـا لـه بندرونـو څخـه صادرېـږي او ٦۰ سـلنه واردات هـم لـه همـدې لارو کـوي. د سـوېلي افریقـا پـه کانونو کې بوخت سـوازي کارګـران د سـوازیلنډ ۲۴ سـلنه کورنـي عایـدات برابـروي. د سـوازیلنډ دولـت هڅـه کـوي چـې د بهرنـۍ پانګـې لپـاره پـه زړه پـورې قانـوني او اداري شرایـط برابـر کـړي.
د سـوازیلنډ د پیسـو بیـه د سـوېلي افریقـا د پیسـو لـه بیـې سره تړلـې او لـه هغـه سره جوخـت ښـکته یـا پورتـه کېـږي. د سـوازیلنډ د دولـت ډېـر عوایـد لـه هغه پیسـو څخـه پوره کېـږي چـې د سـوېلي افریقـا د هېوادونـو د ګمرکاتـو اتحادیـه یـې ورکـوي.
د دغـه هېـواد د ناخالصـو کورنیـو تولیداتـو بیـه اووه میلیـارده ډالـره او د ناخالصو کورنیو تولیداتـو کلنـۍ وده یـې دري سـلنه ده. همـدا راز د دغـه هېـواد د سړي سرکلنـي عاید کچه ۳۹۳۴ ډالـرو تـه رسـېږي، خـو کاري ځـواک یـې پنځـه لکـه تنه اټکل شـوی.
دغـه راز د دغـه هېـواد ۳۰ سـلنه وګړي وزګار دي او ۵۰ سـلنه کورنـۍ یـې د بېوزلـۍ تـر کرښـې لانـدې ژونـد کـوي.
د سـوازیلنډ د عوایـدو کچـه دوه میلیـارده ډالره او د لګښـتونو کچـه یـې ۲،۳۰ میلیارده ډالـرو ته رسـېږي.
فابریکـې، ماشـینونه، نقلیـه وسـایط، پـرزې، خوراکـي مـواد، برېښـنا، د کانونو اسـتخراج، فلـزي شـیان، ټوکران او لاسـي کارونه د دغه هېـواد پـه صنعـت کـې رغنـده رول لري.
د سـوازیلنډ ۱۵ سـلنه ځمکه د کرنـې وړ ده. د دغه هېواد ٦۵ سـلنه خـاوره څړځایونو، اته سـلنه ځنګلونو او پاتې نوره غرونو، سـیندونو، ښـارونو او د اسـتوګنې کلیوالـو سـیمو نیولې ده. د سـوازیلنډ ۷۵ سـلنه خلـک د کرنـې پـه سـکټور کـې پـر کار بوخـت دي او د دغه هېـواد ۱۰ سـلنه ناخالـص کورنـي تولیـدات هـم لـه همدې سـکټور څخـه لاسـته راځي.
لرګـي، ګنـي، پنبـه، تنباکو، وریجـې، جوار، بـادام، وړدن، قهـوه، مېـوې، سـابه، غوښـه، لبنیـات، هګـۍ او وابښـه د سـوازیلنډ د کرنې او څارویـو مهـم محصـولات بلـل کېـږي.
سره زر، سـپین زر، الماس، د ډبـرو سـکاره، مـس او اوسـپنه د دغـه هېـواد لـوی او مهـم کانونـه دي. د صادراتـو ټولـه بیـه یـې دوه میلیـارده ډالـره او د وارداتـو ټولـه بیـه یـې ۲،۲۰ میلیـارده ډالـرو تـه رسـېږي.
فرانسـه، اروپایـي ټولنـه، جاپـان، امریکا، سـنګاپور او چیـن د دغـه هېـواد لـوی سـوداګریز شریـکان دي.
دغـه هېواد ۴۰۰ کیلومـتره د اورګاډي پټلۍ او ۲۰ هوایـي ډګرونـه لـري چـې پنځـه یـې پـه پاخـه او عـصري ډول رغول شـوي دي. د ټلیفـون کوډنمبر یـې ۰۰۲٦۸ او د انټرنېټ کـوډ نمبر یـې اېس زیټ دی او تـر یولـک پـورې وګـړي یـې انټرنېټ ته لاسرسـی لري.
د سـوازیلنډ دولـت دري ټلوېزیونونـه او څلـور راډیوګانـې لـري. ترڅنـګ یـې د رسـنیو خصـوصي برخـه هـم ټلوېزیونونـه او راډیوګانـې لـري.
پـه سـوازیلنډ کـې پنځـه ورځپاڼـې هم شـته او هـر سـړی یـې پـه منځنـۍ توګـه هـر کال ۱،۱ کیلوګرامـه کاغـذ د لیکلـو، لوسـتلو او خپرولـو لپـاره لګـوي.
سـوازیلنډ د سړي سرکلني عایـد او ناخالص کـورني تولیـد لـه کبلـه د نـړۍ او افریقـا لـه پرمختلونکـو هېوادونـو څخـه دی. د دغـه هېـواد ۸۵ سـلنه وګـړي پـه لیـک او لوسـت پوهېـږي. دغـه راز پـه دغـه هېـواد کـې ماشـومانو او تنکیـو ځوانانـو تـه زده کـړه وړیا او جـبري ده او هـر وګـړی یـې پـه منځنـۍ توګـه ۱۱ کالـه پـه درس کـې تېـروي.
د سـوازیلنډ د ډېـر پخـواني تاریـخ پـه اړه معلومـات نشـته، خـو پـه دې وروسـتیو پېړیو کـې د سـوېلي افریقـا اتحادیـه او سـوازیلنډ ګـډ برخلیـک لـري. پـه ۱۸۲۰ ز کال کـې د سـوازیلنډ اوسنۍ خاوره د سـوازي تورپوسـتو لاس تـه ورغلـه. هغـه وخـت چـې برېټانیـا د سـوېلي افریقـا د نیولـو تـکل وکـړ، پرتـګال خپـل پوځونـه او مهاجـر سـوازیلنډ او د هغـه شـاوخوا سـیمو ته د اسـتولو لپـاره برابر کړي وو. لـه همـدې املـه برېټانیا د افریقـا په نورو برخـو کـې پرتـګال تـه څـه امتیـازات ورکـړل او هغـه مهاجـر یـې چـې د افریقا پـه سـوېلي برخـو کـې اسـتوګن شـوي وو، د سـوازیلنډ نیولـو ته واسـتول.
مسـواتي پـه ۱۸۳۹ ز کال کـې د نورو قومونو پـر وړانـدې د درېـدو پـه پـأر د سـوازیلنډ بېلابېـل قومونـه سره یوموټـی کـړل. نوموړي پـه دغـه سـیمه ۳۰ کالـه پاچایـي وکـړه او د بویریـان پـه ضـد یـې برېټانویانـو تـه د ملګرتیـا ژمنـه ورکـړه. هغـه وخـت چـې د سـیمې بویریان پـه شـا وتمبېـدل، د برېټانیا واکمنـۍ تـه لار هـواره شـوه. برېټانویـان پـه ټولـه سـوېلي افریقـا لاسـبري شـول او ټولـه سـیمه یـې لـه ترانسـوال څخـه اداره کولـه. پـه ۱۹۰٦ ز کال کـې سـوازیلنډ د سـوېلي افریقـا د اتحادیـې د کورواکـۍ او وروسـته د خپلواکـۍ د مقدماتـو لـه برابرېـدو سره جوخـت د برېټانویانـو تـر رسـمي حمایـې لانـدې راغـی. لـه دې وروسـته د اسـتعمار پر وړانـدې د سـوازیلنډ د خلکـو مقاومـت پیـل شـو. پـه دغـه وخـت کـې سـوازیلنډ د داسـې پاچـا لـه خـوا اداره کېـدو چـې ټـول واک یـې د برېټانـوي کمیسـار پـه لاس کـې و. لـه دویمـې نړیوالـې جګړې وروسـته د سـوازیلنډ د خپلواکـۍ لپـاره هلـې ځلـې ډېرې شـوې.
لـه ۱۹٦۰ ز کال وروسـته پـه دغـه هېواد کـې څـو سـیاسي ګوندونـه جوړشـول، لکـه: ولسـواک ګونـد او داسـې نـور. پـه ۱۹٦۸ ز کال کـې برېټانیـا د نړیـوال فشـار او د سـوازیلنډ د خلکـو د غوښـتنې لـه املـه سـوازیلنډ تـه داسـې خپلواکـي ورکـړه چـې دویـم سـوبوزا د پاچـا پـه توګـه پاتـې شـو. نومـوړي پـه ۱۹٦۹ ز کال کـې لـه سـوېلي افریقـا سره د دوسـتۍ تـړون لاسـلیک کـړ او پـه ۱۹۷۳ ز کال کـې یـې اسـاسي قانـون لغـوه، سـیاسي ګوندونه بند او ملي شـورا یې ړنګـه کـړه او داسـې اداره یـې جـوړه کـړه چـې ټـول واک یـې د پاچـا پـه لاس کـې و.
افغانسـتان او سـوازیلنډ هېڅ ډول سیاسي، سـوداګریزې او فرهنګـي اړیکـې نـه لـري.
لـه افغانسـتان څخـه تـر سـوازیلنډ پـورې د هـوا لـه لارې فاصلـه ۸۵۵۰ کیلـو متـرو تـه رسـېږي. دغـه راز د کابـل او مبابـان ښـارونو ترمنـځ د وخـت توپیـر هـم دوه نیـم سـاعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦ |
| € | ۸٦,٤۰ |
| Rp. | ٥٦٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۷ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - کندهار | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# په مصر کې دې ځایونو ته ډېر سیلانیان ورځي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

مصر د خپل پخوانۍ اوږد تاریخ، تاریخي ځایونو او تاریخي ابدو چې تر ټولو ډېر مشهور یې د مصر هرمونه دي، نړیوال شهرت لري. مصر ډېر زیات موزیمونه لري چې د دغه هېواد تاریخي اثار پکې ساتل کېږي او د بېلابېلو هېوادونو وگړي یې لیدو ته ورځي. په دې لیکنه کې مو د مصر هغه تاریخي ځایونه درته معرفي کړي چې د نړۍ له گوټ گوټ څخه یې خلک لیدو ته ورځي.

**۱- د جیزه اهرام**

د پخوانۍ نړۍ له عجیبه او تاریخي پاتې شونو څخه یو د جیزه اهرام دی چې نړیوال شهرت لري. د جیزه اهرام څو پېړۍ کېږي چې د خلکو پام یې ځان ته اړولی دی او په کلني ډول له بېلابېلو هېوادونو څخه زرگونه کسان د دغه اهرام لیدو ته ورځي او سیل یې کوي. د زرگونو کلونو په تېرېدو سره، ساینس پوهان اوس هم په دقیقه توگه نه پوهېږي چې د مصر اهرامونه څه ډول جوړ شوي دي. هغه څه چې د یو راز په توگه په دغو اهرامونو کې نغښتي دي، هغه د هغو د جوړښت څرنگوالی دی. د مصر اهرامونه په نړۍ کې د بشر په لاس تر ټولو ستري جوړې شوې ودانۍ دي چې کارپوهانو پرې څو پېړۍ څېړنې کړې دي.

دغه اهرامونه داسې جالب جوړښت لري چې سړی په ژور فکر کې ډوب کوي، داسې چې څو پېړۍ وړاندې چې د اوس په څېر ټکنالوژۍ پرمختگ نه و کړی، خلک څه ډول توانېدلي چې په ټولو معیارونو برابر او له ځانگړو لویو ډبرو دغه ډول څلي جوړ کړي چې ان نننی انسان یې له جوړولو عاجز دی. که مصر ته سفر وکړئ او دغه اهرامونه ونه گورئ، مانا دا چې مصر ته مو سفر نه دی کړی.

**۲- اسلامي قاهره**

اسلامي قاهره د قاهرې ښار یوه تاریخي سیمه ده. د دغه ښار کوڅې له جوماتونو او مدرسو ډکې دي چې د فاطمیونو له دورې نیولې بیا د مملوک تر سلطنت پورې جوړې شوې دي. په دغه کوچني ښار کې لا هم د صنعتکارانو او مسگرانو غرفې فعالې دي چې په هماغه پخواني دود او رواج باندې لوښي او نور وسایل جوړوي.

**۳- د الازهرمسجد**

د الازهر مسجد د مصر تر ټولو مشهور او پخوانی مسجد دی چې د محمد العربي له خوا د مصر له فتحې وروسته په ۹۷۰ ز کال کې په قاهره کې جوړ شوی دی. دا چې یاد مسجد په قاهره کې تر ټولو لومړنی مسجد دی، نو له همدې کبله ورته د مصر جامع مسجد هم ویل کېږي. د الازهر مسجد د نړۍ تر ټولو د ډېرو پایو لرونکی مسجد بلل کېږي چې لمونځ کوونکي د قبلې په طرف پر پنځو لویو قطارونو باندې وېشي. لویه گنبده یې د قبلې په خوا کې موقعیت لري چې په ۹۰۵ ز کال کې جوړه شوې ده. د عثمانیانو په دوره کې د مسجد د قبلې دېوال د مسجد د پراخوالي لپاره له خپل ځای څخه لرې او مخ ته یوړل شو. مسجد په خپله شاوخوا کې گڼ شمېر نور ملحقات هم لري. کتابتون، علمي مرکزونه او پوهنتون یې اړوند مشهور ملحقات دي. د مسجد اړوند پوهنتون کې تر ډېره دیني علوم، لکه: فقه، حدیث او تفسیر تدریسېږي چې گڼ شمېر نارینه او ښځینه محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي. د ۱۹مې میلادي پېړۍ په وروستیو کې د شیخ محمد عبده له خوا د مسجد په څنگ کې یو لوی کتابتون هم جوړ شو چې اوسمهال لږ تر لږه نیم میلیون ټوکه کتابونه لري. دغه کتابتون په مصر کې له (دارالکتب المصریه) وروسته دویم لوی کتابتون دی. د الازهر له مسجد څخه یوازې د یوه عبادت ځای په توگه کار نه اخیستل کېږي، بلکې د فتوا صادرولو لوی مرکز هم بلل کېږي.

**۴- اسوان**

د مصر تر ټولو ارام ښار د اسوان په نوم یادېږي. په مصر کې هغه کسان چې غواړي یو څه وخت یې غوږونه او ذهن له زیاتې گڼې گوڼې په امن کې وي او یا تاسو غواړئ چې د یو څه وخت لپاره مو ذهن او فکر ارام شي، نو اسوان ښار یې لومړنی ځای او بېلگه ده. د اسوان ښار ډېر په زړه پورې جوړښت لري او د شپې له خوا بیا د رڼاگانو ښار بلل کېږي. په زړه پورې خو لا دا ده چې د ښار په منځ کې د سیند پر غاړه گڼ رستورانتونه او د ناستې ځایونه جوړ شوي دي چې په دغه ځای کې کولی شی د مصر خپل دودیز او دغه راز د نړۍ بېلابېل خواړه نوش جان کړی او مزه یې وڅکی.

**۵- سکندریه**

که مو مصر ته سفر وکړ چې سکندریه مو هېره نه شي. دا د مصر دویم بندري ښار بلل کېږي چې ډېر اوږد تاریخ لري. دغه ښار ته ځکه سکندریه وایي چې له گنو فتوحاتو وروسته مقدوني سکندر د دغه ښار د جوړولو سپارښتنه وکړه چې بیا وروسته ښار هم د نوموړي په نامه ونومول شو. سکندریه د بطلیموسیان د دورې پر مهال پلازمېنه ټاکل شوی و او د یوناني نړۍ تر ټولو ستر ښار بلل کېده.


د یادولو ده چې مصر گڼ شمېر نور ځایونه هم د سیل او چکر لپاره لري. موږ یې دلته یوازې د ځینو یادونه وکړه. دا چې مصر یو تاریخي هېواد دی، نو که مو کله ورته د سفر تکل وکړ، مصریان او مصر پېژندونکي په دې برخه کې درسره پوره مرسته کولی شي.

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون: تر راتلونکو شپږو ورځو پورې به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، تر راتلونکو شپږو ورځو به ولسي جرگې ته د ۳۲ ولایتونو د بریالیو نوماندانو ابتدایي نوملړ اعلان شي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح الله سادات د یکشنبې په ورځ له ازادي راډیو سره په خبرو کې وویل، سره له دې چې د لیندۍ دویمه یې د یادو پایلو د اعلان ورځ ټاکلې، خو ټینگار کوي چې که دقت د سرعت قرباني کېږي، نو د پایلو په اعلان کې به ځنډ ته ترجیع ورکړي.

نوموړي زیاته کړه: «د همدې اونۍ تر پایه به انشاالله د بیا شمېرنې پروسه ختمه شي، تر اوسه د دوو سوو مرکزونو رایې بیا شمېرل شوې، زموږ نهایي هڅه همدا ده چې د ۳۲ ولایتونو د لومړیو انتخاباتو پایلې د قوس په دویمه، د کابل د قوس په لسمه او نهایي پایلې به یوه میاشت وروسته اعلان کړو».



نوموړی وایي، تر اوسه د ۳۲ ولایتونو د بایو مېټریک دستگاوو معلومات د اطلاعاتو بانک ته اضافه شوي او هڅه کوي چې د کابل ولایت د مرکزونو د رایو د بیا شمېرنې پروسه هم ختمه او ډېټابېس ته یې شامل کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون مخکې ویلي وو، سره له دې چې د رایو بیا شمېرنه وخت نیسي، خو ممکن د لومړیو پایلو پر اعلان اغېز وکړي.

وروسته تر دې چې د ولسي جرگې په ټاکنو کې د تقلب او لاسوهنې په تړاو تند غبرگونونه راوپارېدل، د ټاکنو خپلواک کمېسیون اړ شو چې د هغو مرکزونو په تړاو چې په اړه یې شکایتونه موجود وو، د رایو د بیا شمېرنې پرېکړې وکړي. اوس دا کمېسیون شپږ ورځې وخت لري چې د رایو د بیا شمېرنې پروسه هم پای ته ورسوي. پر ټاکنو د څار یو شمېر بنسټونه پر دې باور دي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون نه شي کولای په ټاکل شوې نېټه لومړنۍ پایلې اعلان کړي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید وایي، ټاکنیزو کمېسیونونو تر دې مهاله ونه شوی کړای چې خلکو ته قناعت ورکړي.

رشید وایي، دوی ته په بغلان کې د رایو د بیا شمېرنې پروسې د توقف خبرونه ورسېدلي او دا ښیي چې د ټاکنو کمېسیون د دې پروسې د شفافیت تکل نه لري.

## مشرانو جرگه: حکومت دې د جنرال رازق د وژنې په تړاو د څېړنو پایلې له موږ سره شریکې کړي

د مشرانو جرگې غړي او اداري پلاوی ټینگار کوي چې حکومت دې ژر تر ژره د کندهار د وژل شوي امنیه قوماندان جنرال رازق د وژل کېدو په اړه څېړنې بشپړې او له ملت سره یې دې شریکې کړي.

دوی له حکومت او په تېره بیا له امنیتي او کشفي ارگانونو وغوښتل چې د کندهار د وژل شوي امنیه قوماندان عبدالرازق د وژل کېدو په اړه دې د څېړنو پایلې له دوی سره شریکې کړي.

دې جرگې د یکشنبې ورځې په عمومي غونډه کې وویل، حکومت او امنیتي ارگانونو ورسره د عبدالرازق له وژل کېدو وروسته ژمنه کړې چې په دوو اونیو کې به د دې پېښې څرنگوالی پیدا او پر وړاندې به یې جدي اقدامات وکړي.



د دې جرگې مشر فضل هادي مسلمیار د جرگې د یوشمېر غړو له څرگندونو وروسته وویل چې حکومت او امنیتي ارگانونه باید د کندهار د ترور شوي امنیه قوماندان د پېښې په اړه له بې پروایۍ ډډه وکړي.

نوموړي وویل: «د شهید جنرال صاحب رازق خان د شهادت په اړه د ټول ملت ملاحظه ده او په گډه سره به یې تعقیبوو، په را روانه اونۍ کې به د امنیتي سکټور مشران او مسوولین د مشرانو جرگې ته تشریف راوړي».

د مشرانو جرگې غړو دغه راز وویل، کله چې د مشرانو جرگې یو څېړونکی پلاوی کندهار ته تللی و، امنیتي بنسټونو ورته ډاډ ورکړی و چې پېښه به په لږو ورځو کې وڅېړي، خو د دغو بنسټونو له کمزورو اقداماتو ښکاري چې پېښه یې هېره کړې ده.

د کندهار ولایت امنیه قوماندان عبدالرازق د ولسي جرگې له ټاکنو دوې ورځې وړاندې د میزان په ۲٦ مه د کندهار د ولایتي غونډو په خونه کې په داسې حال کې چې د بهرنیو ځواکونو یوشمېر لوړپوړي چارواکي هم پکې حاضر وو، د یوه افغان ساتونکي په ډزو ووژل شو.

د امنیتي چارو پوهان وایي، په وروستیو شاوخوا اوولسو کلونو کې د هېواد ډېرې مهم امنیتي او ملکي کسان د وسله والو مخالفینو او یا د ناپېژاندو وسله والو له خوا وژل شوي او سره له دې چې امنیتي او کشفي ارگانونو یې د عاملینو د موندلو او جزا ورکولو هوډ کړی، خو تراوسه یې د یوې تروریستې پېښې عاملین هم نه دي نیولي.

د دغو پوهانو له ډلې محمداگل مجاهد ازادي راډیو ته وویل: «پرته له شکه په اوولسو کلونو کې چې کومې قضیې په افغانستان کې شوې، د حکومت له خوا یا په دقیقه توگه نه دي څېړل شوې او که څېړل شوي هم دي، له خلکو سره یې شریکې کړې نه دي، که د دوی په کارونو کې نیمگړتیا وي او پکې پاتې راغلي وي، له اخلاقي پلوه بیا هم ضروري ده چې له خلکو سره یې شریکې کړي».

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: عبدالرقیب نوري
لیکوالان: محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی،
جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین،
حشمت نوري او جواد تیموري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۲۸مه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۱۹مه | دویم کال | ۲۸۷یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۷ | ۲٤ |
| ۱ | ۵ | ٦ | ٦ | ۱۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۳ | لمر ختل ۰٦:۲۹ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیگر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰٤:٤۸ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ




## بنیاد آقاخان برنامۀ اسکان را در افغانستان آغاز کرده است



مسؤلان بنیاد آقاخان، می‌گویند که این نهاد برنامۀ اسکان را در افغانستان آغاز کرده است.
رئیس عمومی بنیاد آقاخان برای اسکان می‌گوید که این برنامه در کنار معیاری ساختن شهرها، برای بازگشت کننده‌گان و نیز کسانی که در روستاهای دور دست زنده‌گی می‌کنند، زمینۀ ساخت سرپناه را فراهم خواهد ساخت.
اونو روهل در این باره می‌افزاید: «اکنون تمامی این فعالیت‌ها در افغانستان بسیار نیاز است. ما اینجا استیم، زیرا باور داریم که افغانستان، یکی از مهمترین کشورها برای پیشبرد فعالیت‌های بنیاد آقاخان است. ما می‌خواهیم که باشنده‌گان بخش‌های کوهستانی را نه تنها ایمن بسازیم، بل زمینه پیشرفت را برای شان فراهم کنیم.»
این نهاد، در ساختن شفاخانه‌ها و مکتب‌ها در افغانستان نیز سهم داشته است و چندین مکتب را در بخش‌های افغانستان اعمار کرده است. نور جهان موانی، سفیر بنیاد آقاخان در افغانستان می‌گوید: «احیای زمین‌ها به معنای زنده‌گی و درآمد بهتر برای دهقانان و کاستن از فشار برای مهاجرت به شهرها است. همکاری‌های ما به از میان رفتن اختلاف‌های سنتی میان مردم و نهادهای عامه انجامیده اند.»
در همین حال، نجیب آقا فهیم، وزیر دولت در امور رسیده‌گی به رویدادهای طبیعی برنامه اسکان را برای کمک به آسیب دیده‌گان اثرگذار می‌داند.»
آمارها نشان می‌دهند که افغانستان از رهگذر رویدادهای طبیعی نیز آسیب پذیر است و به همین دلیل نیاز بر برنامۀ اسکان در این کشور بسیار محسوس است.

